پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۲/۲۰

# تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه
## او قلملار تولنه
## ۱

زه په دې عقيده يم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي.
که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنی زماني له غوښتنو سره سم و نه روزل شي،
د ژوند چینه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وګڼئ!

د اوسني بحث اصلي موضوع د قلم لار ټولني د پروګرامونو او د دې ټولني د فعالینو پر هلو ځلو باندې راڅرخي. د قلم لار ټولني او د هغې د مسولینو هلې ځلې د تعلیم، د ترلږ ښوونځیو بیرته پرانستنه، د کوچنیانو او ځوانانو د زدکړو، کتاب سره مینه او د مطالعې کلتور د عاملو په دایره کې تر سره کیږي. د سواد زدکړې، د پوهې تر لاسه کولو اصلي منبع کتاب دی، له کتاب سره مطالعه تړلې ده، نو ځکه دا موضوعات ژوندي دي او هیڅکله نه زړیږي.
په هیڅ ځای کې او په هیڅ ټولنه کې د مطالعې دود، نه زړیږي او نه هم خلک ور نه مړیږي، یوازینی شی چې بدلیږي هغه د مطالعې ډول او څرنګوالی دی، ځای بدلیږي او له کتاب یا لیکل شوو موادو نه د استفادې ډول یا څرنګوال دی چې بدلیږي یا د د مطالعې مواد دي چې په زړیدو سره بدلیږي.
یو وار مې ویلي، اوس یې بیا هم وایم چې په نورو ټولنو کې د تکنالوژی له پر مختګ سره د ژوند کولو او ژوند جوړولو سیستم او وسایل او له هغو نه د استفادې څرنګوالی هم بدلیږي، خو زموږ په ټولنه کې یا نه بدلیږي او یا دا پروسه دومره پڅه ده چې هیڅ نه محسوسیږي، چې یو له هغونه کتاب، کتاب لوستنه او مطالعه ده. زموږ د ټولنې په ډیره سلنه خلکو کې تر اوسه د کاغذي کتابونو د لوستلو دود نه دی رامنځ ته شوی، خو په نورو ټولنو کې له کاغذي کتابونو نه بریښنایي کتابونو ته خبره اوښتې ده او له بریښنایي کتاوبونو نه اوس اوس خبره غږیزو کتابونو ته رسیدلې ده.
سره له دې چې نه شمیرل کیدونکي نا خوالې زموږ پر خلکو او ټولنې باندې ور تپل شوي دي او د هغو په سوري او تیاره کې زموږ خلک لاس پښې ښوروي، خو څنګه چې لیدل کیږي د علم د خپروني، د تعلیم د عاملو، کتاب لوستنې او مطالعې دود، زموږ په ټولنه کې له ستونزو سره سره ، ورځ تر بلې ډیریږي. ما څه موده وړاندې د مطالعې د دودیدو په خاطر د یوې مقالې په ترڅ داسې لیکلي وو:
«د خوشالی خبره ده چې د لوست، کتاب او مطالعې په لوري، د استادانو، شاګردانو او نوي نسل پام اوړي. هیله ده چې دا هڅې نوري هم ګړندی شي او د مطالعې کلتور دومره عام شي چې کوراکور د کتاب او مطالعې په ارزښت باندې خلک پوه شي. کله چې مطالعه وي، نو ورسره پوهه وي. چې پوهه وي د کتاب او مطالعې وال خپله لار د ښیګنې او پرمختګ پر لوري پرانیزي. کله چې کتاب او مطالعه وي، د نا پوهۍ او تیارې لمن ټولیږي، د خلکو او ټولنې سترګې غړیږي، بیا نو خپل منزل ته د رسیدو لار پیدا کولای شي. د کتاب، مطالعې او مطالعې ته د هڅونې په باب چې هر څومره وویل شي، ولیکل شي او خپاره شي، بې ګټې، تکراري او زاړه به نه وي.»
یو وار مې د یوې مقالې له لارې، له ښاغلي احسان آرینزي سره د زړه خواله کې، د څو نسلونو د سواد او مطالعې مسألې ته داسې اشاره کړې وه؛
«هغه بدبخته نسل چې له ټولنې، پلار، نیکه او له تیرو واکدارانونه داسې ټولنه، شرایط، قوانین او طرز تفکر ورته په میراث پاتې دي، چې هغه نوي زیږیدونکي ماشوم ته پرته له بیسوادی، ناپوهۍ او بدبختۍ بل څه په لاس نه شي ورکوالی. دا خو د ژړا او غم ورده، دا پوښتنه باید مطرح شي چې له دې خلکو او ټولنې سره دا جفا چا وکړه، دا هر څه له کوم آدرسه ورسره شوي او له کوم آدرسه همدا اوس کیدونکي دي ... زه فکر کوم چې د بدخشان د باریک آب او د افغانستان په نورو سیمو کې د طبعي آفاتو په پیښیدو سره ستړې انساني غمیزې رامنځ ته شوې، چې واقعاً د ژړلو وړدي او د هر با درده انسان له سترګواوښکې بهوي، خو زه یې داسې ګڼم چې له دې ټولو غمیزو نه ستره غمیزه همدا د یوه نه، بلکې د څو نسلونو بیسواده پاتې کیدل دي، ټینګارکوم او وایم چې د یوه نه، د څو نسلونو بیسواده ساتل دي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ما د مطالعي په باب په خپله يوې مقاله کې، زمونږ په ټولنه او خلکو کې د مطالعې د کلتور د نشتوالي يا ضَعيفوالي په باب دوې داسې خاطرې ليکلې وې چې مايوسونکې وې، ورپسې مې دا هم ور نښلولې وو چې موږ بايد مايوسه نه شو او ...

«... دا هغه تريخ واقعيت دی چې په موږ افغانانو په تيره په پښتنوکې شته؛خو بايد مايوسه نه شو، په نيمه لارکې پاتې نه شو، د مطالعې د کلتور د عامولو له پاره بايد نور هم کار وشي. لکه په تيره برخه کې مې چې په ننګرهارکې د ننګرهار ميډيوتيک کتابتون او په لغمان کې د نعيمي فرهنګي مرکز کتابتون نمونه وړاندې کړې وه، دا د مطالعې د کلتور د عامولو له پاره موثر او باوري ګامونه دي او په هغه پسې دا دی د کتاب د نړيوالې ورځې په مناسبت په کابل کې د کتابونو د نندارتون پرانستل کيدل، يوځل بيا په دې لاره کې يو بل ډير ستر او موثر ګام بلل کيږي، هيله ده چې دا دود او دستور نورهم عام شي، وغځول شي، د سياسي، قومي سيمه ايزو او ژبنيو تضادونو پرځای بايد ځوانان مطالعې او د پوهې ترلاسه کولو ته وهڅول شي او دا کار ورو ورو په عاميدودی »

او دا دی زما دا هيله يو څه تر سره شوه او د تعليم او مطالعې له پاره هڅې او هاند نور هم پسې ګړندی شو. د دغو انساني هڅو په لړ کې دوه تکړه فرهنګيان او دوه با احساسه ورونه، عطا الله ويسا او مطيع الله ويسا دتړلو ښوونځيو د پرانستو، د کوچنيانو او ځوانانو د تعليم، مطالعې د دود د عاميدو او کتابونو د ويش له پاره داسې هڅې پيل کړې دي چې د ځينو لا زړه ته هم نه لويږي.

ويسا ورونو(عطا الله ويسا او مطيع الله ويسا) خپل فعاليتونه د قلم لار ټولنې په چوکاټ کې تر سره کوي. له عطا الله ويسا سره مې د ۲۰۱۵ کال د اپريل په مياشت کې په کابل کې و پيژندل، بيا مو اړيکې ساتلې وې. هلته په کابل کې او څو وارې يې د تيليفون او سکايپ له لارې د خپلو فعاليتونو په باب معلوات را کړل. د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ په اتلسمه نيټه يې د «قلملار ټولنه» په باب داسې مالومات راکړل:



«د قلملار ټولنې هڅې موږ په ۱۳۸۷ کال کې پيل کړې، خو دا ټولنه مو يو کال مخکې په اړوندو ارګانونو کې راجستر کړه او د فعاليت جواز مو ور ته واخست. د دې ټولنې د کار اصلي ساحه د تعليم او معارف په برخه کې ده. اوس يې دا پروګرام مخته کړی دی چې په لومړي ګام کې د افغانستان په نا امنو سيمو کې تړلې ښوونځې د دولت او خلکو په مرسته بيرته پرانيزي. کومه احصايه چې زمونږ ټولنې په نا امنه سيمو کې د تړلو ښوونځيو د شمير په برخه کې تر لاسه کړې ده،په نا امنو سيمو کې د تړلو ښوونځيو شمير يو زرو دوه سوه پنځوس (۱۲۵۰) ته رسيږي.

د قلم لار ټولنې د فعاليت بله برخه دا ده چې بې سر پرسته ماشومان تر روزنتونونو پورې رسوي او هغه بيوزلي او له ښونځيو پاتې ماشومان چې سن يې تر اوو کلنو پورته وي، په کابل کې يې هغو دولتي ښوونځيو ته ور پيژنو چې ليليه ولري، لکه د خوشال خان او رحمان بابا ليسې.

په قلملار ټولنه کې زموږ د هڅو بله برخه دا ده چې ځيني بيوزله ځوانان د لوړو زدکړو له پاره بهر ته هم ليږو. لومړنی ګروپ مو يو کال مخکې هند ته ليږلی دی او اوس د يو بل ګروپ ځوانانو له پاره زمينه برابروو چې ترکيې ته يې واستول شي. قلملار ټولنه د لوړو زدکړو له پاره ځينې داسې مراجع لټوي چې له موږ سره بهر ته د ځوانانو په ليږلو کې مرسته وکړي.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ویسا ورونه د قلم لار ټولنې له لارې، تر عادي مطالعې ډیره پراخه ده. د دوی د کار پروګرام دغه برخې را نغاړي:
ـ د هیواد د ټولو ماشومانو د زده کړې مسأله،
ـ په لویانو او ځوانانو کې د مطالعې د فرهنګ دودول،
ـ د ترلږ ښوونځیو د بیا پرانستو له پاره هڅه او مبارزه.
د قلم لار ټولنې د همدې هڅو په پایله کې تر اوسه د هیواد د ځینو ولایتونو په ولسوالیو کې په شخصي لګښت د اوو(۷) عامه کتابتونونو پرانیستل دي.
ویسا ورونه له دغو فعالیتونو سره حق لري چې و وایي:
هلته دتیارو سره په جنګ یمه
چیرته چې د لمر هم رڼا نه رسي
د ۲۰۱۶ کال د جنوري په شلمه نیټه م له ښاغلي مطیع الله ویسا سره د مطالعې او کتاب ویشنې په باب د فیسبوک د چټ په خونه کې ډیرې خبرې شریکې کړې چې یوه برخه یې دا ده:«
ویسا ـ سلام، جوړ په خیر!
بهاند ـ سلامونه ویسا صاحب !څه حال مو دی؟
ویسا ـ څه حال دې دی، کور کې خیریت دی؟ سبا ځم خوست کې کتابتون جوړوم، په یعقوبیو ولسوالي کې.
بهاند ـ خدای دې نور توان او برکت هم درکړي. تر څو چې دا خلک با سواده او پوه نه شي، هیڅ شی هم نه سمیږي.
ستاسو لار بیخي سمه ده، بریالي اوسئ.
ویسا ـ زموږ یو غم نه دی، په زرګونو غمونه مو پر سر دي. هیڅ دوست د نړۍ پر مخ نه لرو، هره ورځ وژل کیږو، ټکول کیږو خو که یو نه سو نو اخر به ورک کیږو.
بهاند ـ زما هیله دا ده چې د هر کتابتون له پرانستل کیدو نه وروسته یې ښېړ ګزارش په لیکلې بڼه خپور کړئ.
ویسا ـ په یو عالم ستونزو کې ژوند کوم، خو ډیره لویه هیله مو د دې بد بخت قام د اولاد زده کړه ده، ډیرې خوارۍ د دوی لپاره کاږم.
بهاند ـ زموږ لوی دښمن جهالت، ناپوهي او بیسوادي ده چې داسې نا خوالې، اورونه او وینې مو په برخه دي. دې ته مو پام وي چې تر څو مو په کور، کلي او خلکو باندې جهالت، نا پوهي، بیسوادي او بې علمي حاکمه وي، دا حالت به مو په کور کې میلمه وي، هڅه وکړئ چې دا نا بللي میلمانه مو له کور، کلي او وطن څخه کډه شي.
ستاسو دې کور ودان وي، ستاسو خواري ثبتیږي او نه هیریدونکې ده.
ویسا ـ لویه ستونزه جهل او ناپوهي ده.
بهاند ـ ستاسو هڅې او د کتاب خپرول او خلکو ته یې رسول د ډیوو حیثیت لري او له دغه خپاره شوي جهل سره د جګړې تر ټولو ښه وسله ده.
ویسا ـ بس خیل هڅه تر آخري سلګۍ پورې کوم چې خپلو هیوادوالو ته د علم او زده کړو لاره ور وښایو دا به د جګړې مخه نیولې چې قوم مو باسواده سي.
بهاند ـ دا بیخي سمه لار ده، خدای مو بریالي او سر لوړي لره!
ویسا ـ دلته ستونزه یوازې په بې سوادو او نالوستو کې نه ده، لویه ستونزه په لوستو کې هم سته، دلته یو شمیر پښتنې خویندې چې زده کړې یې کړې وي همدغه کسان ورسره بیا واده نه کوي راته ډیرو پښتنو خویندو ویلي دي چې تاسو لوستي ورسره واده نه کوئ، نو کوم پښتون به بیا په لور زده کړې وکړي؟
پښتنه بې بې به د بل کور ته ځي، خو پښتون دې خپلې باټې ولې پلار او نیکه یې توره کړې ده.
بهاند ـ زه پوهیږم چې کله نا کله له لوستو نه هم اور را بلیږي، دا بیا بیل بحث دی چې د مقالو او کتابونو لیکل ایجابوي او بحث ته یې علمي سیمینارونه باید جوړ کړای شي او د حل لارې ور ته ولټول شي، خو نن سبا چار واکي په بل څه لګیا دي .کله کله ځانته په دې قناعت ور کوم چ ې: «ما او تا دې خدای لرېـ سرک به جوړ شي سر کاري، خیر په هر صورت، ګوره ګوره به لرو، خوله به مو خوږه وي.
ویسا ـ هم به ګوره ګوره لرو هم به کار کوو
بهاند ـ بیخي سمه ده، دا دی تاسو هم فعالیت کوئ، چې ښه محسوس هم دی.
ویسا ـ مننه استاده دا خبره مي درسره شریک کوله چې زړه دې خوشاله کړه کړم.
بهاند ـ تاسو او ستاسو دغه ریښتیني مثبت فعالیتونه دې خدای لري، زما د امید سترګې تاسو ته در اوړي .خوشاله او فعاله اوسئ!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ